نهه ویشتم پودکاست

## د کابل پرون، نن او راتلونکی

### دویمه برخه

جنبش: سلام او درناوي ټولو اورېدونکو او د پودکاستونو د دې لړۍ مینه‌والو ته.

د تېرې خپرونې په تعقیب نن بیا د اوسني کابل لپاره د خپل مېلمه پر طرحو او نظریو غږېږو. این سلسله برنامه‌ها را با رئیس جمهور محمد اشرف غنی من داود جنبش اجراء میکنم.

داکتر صیب غني ستاسې او اورېدونکو د روغتیا په هیله، اول ستړي مه شي او بیا د خبرو بلنه درکوم، مهرباني وکړئ.

دکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم. زښته ډېره مننه جنبش صاحب له تاسې نه. زما سلامونه او احترامات ټولو اورېدونکو ته او ټولو وطنوالو ته، څوک چې وطن کې دي او څوک چې د باندې دي.

جنبش: تېره خپرونه کې، د اورېدونکو به په یاد وي مونږ په کابل وغږېدو، خو په تاریخ یې وغږېدو او هلته بیا بیا دا موضوع یاده شوه چې د تاریخ په اوږدو کې کابل ښار له بده مرغه هم د بهرنیانو د بریدونو پر مهال او هم د خپلمنځي شخړو پر مهال ډېرې بدې ورځې لیدلې دي، ویجاړ شوی دی، خو دا وروستی ویجاړې یې چې په دا تېره نیمه پېړۍ کې راغلي، بېخي زموږ د سترګو په وړاندې هم دي او ډېرې ژورې او هر اړخیزې هم دي.

د ۲۰۰۱ کال نه وروسته، چې نړیوالې ټولنې مداخله وکړه په افغانستان کې، بیارغونه په چټک ډول باندې راغله، مخکې له دې نه چې د کابل په اړه ستاسې په طرحو باندې وغږېږو او ستاسې نظر واورم، دغه بیارغونه زما له نظره خو یې د کابل تاریخي بڼه واړوله، غواړم تاسې راته ووایاست چې کابل ښه شوی که خراب شوی؟

دکتور غني: کابل ولس ته سلامونه! ولس خپله ونډه ادا کړې، نن یو نسبتاً آباد کابل لرئ. له هغه ویجاړ کابل نه چې د بامیان د غلغلې ښار غوندې او چنگیزي هرات و بلخ و نورو برخو ته ورته و، نن نسبتاً یو آباد ښار لرئ. اما کابل ته په سپک نظر کتل شوي. ډېره پانگه چې ولس په کې واچوله، په چوکاټ د یو کابل چې یوویشتمې پېړۍ ته له یو خوا برابر وي او له بلې خوا کابل تاریخ ته قدر و عزت ورکړي، ونه شو. بنیادي ستونزې یې ډېرې شولې، ولس تیار و، باندنیو موسسو، خاصتاً د ملگرو ملتونو هغه برخه چې په ښار جوړونې باندې اخته ده او نورو کې د دې ظرفیت نه و. او له بدې مرغې نه د ځمکو مافیا او نورو مافیاگانو قوت په لاس کې واخیسته او د کابل بڼه یې داسې بدله کړله چې هم ښه جهات لري او هم زښتې ډېرې ستونزې په کې دي.

جنبش: بې له شکه کابل ښه شوی دی، تېره خپرونه کې تاسې هم خپل د سترگو لیدلی حال ووایه چې د پېړۍ په سر کې کابل څنگه و او وروسته بیا څنگه شو، خو کابل یوه تاریخي د معمارۍ بڼه درلوده، اوس هغه نه دی. کله چې تاسې د جمهوري ریاست د تصدۍ مسئولیت ترلاسه کړ، تاسې اصلي پام په بیارغاونه، د تېرو میراثونو په بیارغاونه باندې وکړ، دارالامان ماڼۍ یې ډېر ښه مثال دی، په پغمان کې قصرونه یې مثال دی چې په دې به لړ وروسته وغږېږو مثلاً جبل السراج او نور... خو پیل مو له جوماتونو نه وکړ، مشهور جوماتونه هم لري کابل، ولې مو جوماتونه اول را پیلول؟

دکتور غنی: ځکه جومات هم د خدای کور دی او هم د ولس د یو ځای کېدو ځای دی، او زموږ دا جوماتونه تاریخي میراث و، ځکه ما له دې نه شروع وکړله چې خلک پوه شي. مخکې له دې نه چې زه ولسمشر شم د ښار مختلفو جوماتو ته د لمونځ لپاره تلم او واقعاً سړی شرمېده چې دا زموږ تاریخي جوماتونه په څه حالت کې وو. ځکه دې باندې مو کار شروع کړ او سره له دې چې زښت ډېر منفي پروپاگندونه وو، خلکو ته مو ثابته کړله چې دا جوماتونه په ډېره اوچته سطحه باندې بېرته آبادېدای شي. هغه جومات چې پاتې شو، د بالاحصار جومات و چې په نامه «د شاه جومات» یادېده او تیمور شاه او زمان شاه ورباندې ډېره پانگه اچولې وه، مگر پس ته وران شو او هیله‌من وم چې هغه جومات خلاص کړم، مگر هغې هیلې ته ونه رسېدم.

جنبش: په دغو جوماتونو کې چې ورغېدل موږ یوه جلا خپرونه هم لرو، په هغې کې به اورېدونکي تفصیل واوري، ډېرې ښایسته ودانۍ دي کله چې بهرنیان راځي افغانستان ته مثلاً شاه دوشمشېره کې

دغه ودانۍ بیخي یوه نمونه ده. همدغه ډول ځینې یې تاریخي ارزښت لري لکه عیدگاه جومات چې د افغانستان د استقلال اعلان له هغه ځای نه شوی و.

به هر حال، کابل در عین حال –کابل تاریخی منظور من است، در عیان حال باغستان بود که در برنامه های گذشته نامهای بعضی از آن باغهای مشهور برده شد و اشاره‌هایی به آن صورت گرفت، مانند باغ عمومی در نزدیکی مقبره تیمور شاه، باغ علم گنج از سمت ده افغانان به طرف دهمزنگ، باغ علی مردان خان در آخر جاده میوند وغیره... ایا برنامه‌هایی بود که چهره کابل را با احیای مجدد این باغ‌ها تغییر بدهد و این میراث گذشته را دوباره زنده بسازد؟

دکتور غنی: از اولین کارهاییکه در دوران مشاوریت رئیس جمهور کرزی که هنوز رئیس جمهور نشده بود، در حکومت موقت بود، قراردادی را با نهاد فرهنگی آغا خان امضا کردیم که باغ بابر، باغ چهلستون و مقبره تیمور شاه را تکمیل کنند و در عین حال در هرات و نقاط دیگری بود. مهمترین طرح ما ایجاد «باغ کابل» بود که تمام پلان آن تهیه شده و در طول دریای کابل مخصوصاً در قسمت چمچه مست به این طرف، این ساحه تا پُل ارتن و بعد از آن دوام آن به یک ساحه عظیمِ یک باغ جدید که نامش را «باغ کابل» گذاشته بودیم، بدل میشد. باغ علم گنج که ساحه ماشین خانه بود، در حدود ۷۰٪ کارش تکمیل شده بود، و این در عین حال به یک مرکز عظیم فرهنگی و تجارتی مبدل میشد. در باغ علم گنج مساوی به سلام‌خانه حداقل چهار تا پنج تالار بزرگ وجود دارد که اگر تمام اینها را همزمان با هم وصل کنیم که حالا از نگاه تکنالوژی معلوماتی نهایت آسان است، چندین هزار نفر با هم یکجا شده میتوانند و مجالس مختلف را هم در عین حال در این گرفته میتوانید، و طرف مقابلش که چنداول است آن هم زیر پلان بود که بیاید. اما طرح دیگر ما این بود که هم شیردروازه، هم کوه شیردروازه، هم کوه آسمایی دوباره سبز شوند. جوی بزرگی که شخصی که ویسل نام داشت کاکای الغ بیگ بود، این جوی بزرگ را در طول کوه شیردروازه تا بالاحصار رسانده بود. احیای آن جوی از یک طرف، و طرح دیگر ما این بود که تمام سیل‌بُر ها، کوه‌های مختلف ما و تپه های مختلف ما به بندهای خاکی که چینایی ها در این تخصص خاص دارند مبدل شود، و همچنین جوی شیر در کوه آسمایی که از جوهای بسیار مهم ما بود، باید دوباره سر احیای آن فکر میکردیم. و نقطه دیگر ما این بود که دریای کابل باید دارای آب دوامدارباشد. نقطه دیگر این بود که در تمام کوریدور ها مناطق سبز در نظر گرفته شده و پارک‌های کوچک و متوسط، و خود چمن حضوری به یک پارک بزرگ مبدل میشد و نقطه دیگر آن پارک‌های

مشخص برای زن‌ها بود، و تپه های کابل همه مورد نظر بود. سبز شدن تمام آن نقاط هم در تغییر محیط زیست و هم هوا یک اثر بزرگ میداشت.

جنبش: لږ که زيات په باغ علم گنج باندې تم شوو، په دې اړه سندرې هم شته ځوانانو به اورېدلې وي او بل شهرت يې دا دی چې امير عبدالرحمن خان دغه باغ په ماشين خانه واړاوه، البته اړتيا هم وه چې وسلې توليد کړي، خو په عين حال کې يو تاريخي ځای له منځه لاړ. لږ يې توصيفولی شوو چې مثلاً دغه باغ له کوم ځای نه شروع کېده، تر کومه ځايه رسېده او څه ډول يو باغ و؟

دکتور غنی: د دې باغ په تفصيل که غواړئ پوه شئ، د محمود طرزي خاطراتو ته وگورئ، ځکه د زاري روس سفير چې راغلی ؤ، طرزي د دې آسمايي غره لاندې دې باغ کې ليدونکو سره موجود و... . او هره جمعې ورځ کې پنجنشبې او دې کې، ټول کابليان به دلته راغلل چای‌جوشونو او دې سره او دلته به يې مېلې کولې. د انحصاراتو تعميرونه ښي لاس ته د غره لاندې موجود دي او چپ لاس ته يې چې د سيند خوا ته گورئ لوی ديوال دی چې ماشين خانه ده او مخکې له هغه نه د نجات مکتب –اول هم اماني و، بيا پس ته اوس هم په اماني بدل شوی، دلته و تر څو چې وسوځېده. دغه ساحه د باغ علم گنج وه، يعنې پل شاه دوشمشېرې نه تر پل ارتن پورې، تر ډېره برخې پورې. بيا عبدالرحمن خان دلته ماشين خانې جوړې کړلې او د دې عکسونه هم موجود دي او د انگرېز انجنيرانو خاطرات هم موجود دي. ارتن سره نږدې د عبدالرحمن خان زوی سردار نصرالله خان يوه کوټۍ جوړه کړه چې په نامه د «لندني کوټۍ» مشهوره وه، هغه يې دفتر د کار و ځکه چې هغه حيثيت د صدراعظم درلود د امير حبيب الله خان په دوران کې او د ماشين خانې نظارت يې کاوه. ماشين خانې کې عبدالرحمن خان انگرېز انجنيران استخدام کړل، ځکه چې دا وزارت دفاع پورې تړلې وه او لوی دېوال يې درلوده. له ښې مرغې نه تخريب شوي نه وو، مگر لکه ارگ غوندې، نه ترميم شوي وو او بيا منځ کې يې کوټو کې يې نور څه شی وو. دغه شی موږ خلاص کړ او په اساسي توگه ترميم روان و، پنځه کاله ترميم لاندې و. او بله برخه يې دا وه چې ما غوښتل چې دا د عوايدو يو مرکز شي، نو يوازې باغ به نه وي، هم د عايداتو مرکز به وي، هم فرهنگي او کلتوري لوی مرکز به وي او هم باغ به بېرته ودان شي او دليل مې دا و چې د کابل ولس بايد وکړی شي چې سږي يې خلاص شي، د تنفس حق ولري. باغ علي مردان کې سرايونه دي، دا ځای د سرايونو لپاره نه دی او د عيدگاه جومات شا خوا ته پرته ده. دغه ساحه بېرته بدل کېدای شي، سر يې په باغ باندې بدل کېدای شي اما دلته جيولوجي تحقيقات بايد وشي چې څومره موږ لاندې تللی شوو،

ښکته تلی شوو په ځمکې کې، لکه بیروت غونډې چې سوقونه [بازارونه] یې پس له داخلي جنګ نه لاندې یوړل. دا د ځمکې لاندې او سر د ځمکې کولای شي چې په یوه ډېر ښه تعامل باندې راشي، او همدغه طریقه موږ منلوي او دې سره عملي کولای شوو، ځکه دا لوی سرایونه، ښې مرغې نه تقریباً ۴۰٪ ځمکه دولتي ده، نوره خصوصي ده او یو ترکیب باندې باید راشوو چې بېرته دا ساحه څنګه پراخه شي او په عین زمان کې هم د خلکو جایداد مصئون شي راتلونکي لپاره او هم دولتي ځمکې. اما له ټولو نه عمده تر، خلک وکړی شي چې یو ښایسته کابل پیدا کړي، هغه چوکونه چې پخوا د کابل یوه برخه وه...، ما غوښتل چې په هر کورپاوور کې بېرته چوکونه په عصري توګه آباد شي چې موږ وکړی شوو خپل تاریخي عنعنه او میراث اوسنیو شرایطو سره یو ځای کړو.

جنبش: تعمیر هایی که بعداً ساخته شده تنها من قسمتی –نمی فهمم که مربوط ماشین خانه میشد یا نه، گالری ملی یاد میشد بعداً سید مخدوم رهین در زمان وزارت اطلاعات و فرهنگ خود نامش را تغییر داد به نگارستان، غیر از این من دیگر تعمیرها را ندیده بودم، شما گفتید که تالارهای بزرگ است، چند تالار بزرگ که مربوط ماشین خانه میشد در آنجا وجود دارد و حالت فعلی اش چه رقم است؟

دکتور غنی: تعداد تالارها تا حدود ۶ تا ۷ میرسد. تالار اصلی آن که ماشین ها در آن وجود داشت و یک ماشین بزرگ قابل تخلیه نبود و در قسمت نگهداشتش فیصله شد. طول بعضی از این تالارها به اندازه سلام‌خانه ارگ است. سقف اینها بی‌نظیر است یا از نگاه کار چوب یا کار فلزی، و واقعاً یک نمونه بزرگ میراث مهندسی ماست. تا ۹۰٪ ترمیمش تکمیل شده بود، موسسه آغا خان مسوولیت آن را داشت. آنها از یک طرف کار نهایت دقیق میکنند اما از طرف دیگر کاری است که وقت می گیرد، حوصله کار داشت. اما در پهلوی آن، چیزیکه نو است احیای شیوه کاشی بلخ و هرات است که به صورت تجارتی قابل استفاده میشود و هم از نگاه فرهنگی کتاب فروشی هایی که فعلاً زیر کوه آسمایی بود به این جا انتقال میکرد و زمینه آن را پس فراهم میکرد که ساحه کوه آسمایی را تا جوی شیر و اینها ما به صورت اساسی ببینیم. و یکی از طرح‌های من این بود که در طول جوی شیر یک قسمت تعمیرهای دوران حبیب الله خان و امان الله خان وجود دارد که از نمونه های بسیار خوب است، این جایداد شخصی است، اگر مالکینش حاضر میشدند اینها را دولت باید خریداری میکرد، تا به حیث نمونه های تاریخی قابل احیا شوند. و طرف مقابلش ساحه چنداول و شهر کهنه بود که در آن قسمت هم طرح های مشخص داشتیم.

جنبش: همدغه ځای کې چې پرې غږېږو - ماشین خانه، چېې خوا ته یې چې کله مخ د دهمزنګ خوا ته وي شېردروازې غر راځي، دې خوا ته یې آسمایي غر راځي دا دوه ډېر مشهور تاریخي غرونه دي. په سراج‌الاخبار کې یو ځای راغلي وو چې همدغه ځای کې چېرته هندوانو له امیر حبیب الله خان نه وغوښتل چې د دوی یو مهم معبد له پنجشیر نه راوړي او دغه ځای کې یې ځای پر ځای کړي او دوی ته یې سند ورکړی و. دا به هم مهمه وي چې د ګڼ ملتيز هیواد په توګه دغسې تاریخي میراثونه هم پیدا شي او که په هغه اوله بڼه باندې د عبادت ځای نه ګرځي، لږ تر لږه د تاریخ لپاره ثبت شي او وساتل شي.

دکتور غنی: دوه شیان دي چې اورېدونکو ته به په زړه پورې وي: یو، یو ناول دی چې په قوي احتمال باندې خدای بښلي اکرم عثمان لیکلی «کوزه گر» په نامه باندې چې د آسمایي په [هکله] دی او خاصتاً یوه هندو کورنۍ ده. بل یې زموږ د ګران شاعر لېوال صاحب یوه حماسه ده چې په آسمایي غره باندې ده، او هغه معبد چې هلته و او د پنجاب او د کابل روابطو باندې. دا غر لکه چې شېر دروازه غر یا د خیرخانې کوتل په مختلفو دورانو کې مذهبی معابد او دا وو، نو له هغه نظر نه ضرور ده چې دې پسې وګرځئ او تاریخي بڼه د ښار باید خپل حیثیت بیا ښکاره کړي. یو جنجال زموږ په تاریخ کې دا و چې هر څوک چې راغلي دي، دا یې هېر کړي دي چې مخکې له دې نه څه وو او غوښتل یې یوازې خپله برخه وکړي. زما دلیل چې په دوامداره توګه مې غوښتل چې تاریخ هېر نه کړم، دا ده چې هره برخه د کابل چې خاطرات یې د ساتلو دي باید وساتل شي او [هغه] طرحې چې تکمیل شوې نه وې باید تکمیل شي، نه دا چې موږ هر یو له سره شروع وکړو او دا هېر کړو چې ښار، پلازمېنه مو زرها کاله ریښه لري او عزت او اعتبار یې باید یوویشتمې پېړۍ کې بېرته ژوندی شي.

جنبش: تاسې شېردروازې غره باندې لږ وغږېدئ چې ځینې طرحې وې، ځینې شیان هلته جوړ شوي دي. آسمایي باندې ډېر کار نه دی شوی، ما چې – نه پوهېږم څومره به دا دقیق وي، خو اورېدلي مې وو چې داود خان غوښتل چې دغلته یو هوایي موټر غوندې جوړ کړي هغه کېبل کار غوندې چې د یوه غره نه بل ته لاړ شي. خلک، سیلانیان له هغې خوا نه دې خوا راشي او دغه ځایونه وګوري. ستاسې په طرحو کې د دغو دوو غرونو لپاره مهم څه شی و او نوي څه شي؟

دکتور غني: ما غوښتل چې دواړو غرونو باندې سرکونه جوړ کړم، له جابر انصار ولي نه تر بابر باغه پورې دا شی ډېر زر کېدای شي. څنګ کې د دې اساسي شی دا نه و چې موټر لپاره، موټر تنها د دې لپاره و چې پس ته موږ وکړی شوو ځینې عمده شیان انتقال کړو، اما اصلي دا و چې خلک په دې کې باید په پښو وګرځي، دا بهترینه فضا د پښو ګرځېدلو ده او د ورزش. زر زینې ښېردروازې ته جوړې شوې چې کورونه چې په کې جوړ شوي دي وکړی شي تګ و راتګ وکړي. تاسې لیدلي دي چې د یوې جنازې ښکته کول له دې کورونو نه، څومره ګران کار دی. او له بلې خوا نه آسمایي ته سرک جوړ شوی و، له بدې مرغې نه ډېر په سمه توګه نه و جوړ شوی، او د دې سر نه باید د کابل پوهنتون نه بېرته تر ده افغانانو پورې موږ دا لارې برابرې کړو، مختلفې لارې. او دواړو کې د شین کېدو طرحه وه او د کېبل کارو، د کېبلونو وصل دواړو ځایونو کې د سیلانیانو لپاره او د کابل باغ په ارتباط باندې چې دهمزنګ کې به د کابل باغ ټولې برخې سره وصل کېدې او د باغو یوه سلسله به وه، دا به یې سره تړل.

جنبش: یک مشکل عمده کوه‌های ما در نقاط مختلف کشور و مهمتر از همه در کابل اینست که مردم وقتیکه از مناطق روستایی یا شهرهای دیگر کوچیدند و به کابل آمدند، این کوه‌ها را غالباً غصب کردند و خانه‌ها، هر کس به دل خود یک چیزی ساخته که چهره شهر را کاملاً صدمه زده. فکر میکنید چه باید میشد یا چه طرح‌هایی وجود داشت که مردم هم بی سرپناه نمانند و چهره کابل هم به یک حالت خوب و قابل دیدن تغییر کند؟

دکتور غنی: انقره ۵۰ سال پیش وضعیت فعلی کابل را داشت، و خوشبختانه یکی از دوست‌های بسیار نزدیک من، دوست‌های ترک من که در پوهنتون MIT استاد بود و پس آمد مسئول پلانگذاری انقره شد، توانست شهر انقره را، کوه‌های انقره را مطلق صاف کند. راه‌های واضح برایش وجود دارد، ۷۰٪ کابل به صورت غیرپلانی انکشاف کرده، تنها کوه‌ها نیست، ساحات مسطح اش به عین جنجال است، اگر رشد نفوس کابل به شکلی که بیست سال جریان داشت تا سال ۲۰۴۰ به ۸ میلیون می رسید. از این جهت ضرورت واضح است که مردم صاحب جایداد شرعی شوند و استفاده اعظمی از زمین صورت بگیرد، و در این چوکات کوه‌ها و تپه‌ها دوباره تخلیه میشد. عین مسئله سر دریاست. اولین مشکل من –وقتیکه مسئولیت بزرگ ریاست جمهوری به من انتقال یافت، سیلاب‌ها در شهر کابل بود. وقتیکه دیدیم تمام مسیرهای طبیعی آب را بند کرده بودند به شمول ساخت وزارت داخله، چون جبه زارها و

اینها را رویش گرفته شده بود، و همه اینها در یک طرح سرتاسری که کابل به حیث پایتخت افغانستان بتواند همسری کند با شهرهای بزرگ دیگر منطقه و دنیا، روی کار بود.

جنبش: او اوس به لږ په ارګ باندې تم شوو. ارګ د امیر عبدالرحمن خان سره رابطه لري، کله چې دی د منځنۍ آسیا نه راغی او امیر شو، د اوسېدو ځای یې نه درلود، ځکه چې بالاحصار د پاچایانو مېنه انګرېزانو ورانه کړې وه یا په هغه چاودنه کې ورانه شوه، نو بنسټ یې ده کېښود. د زمانې په تېرېدو سره څه ځایونه وران شوو، څه په کې نوي جوړ شول، څېره یې واوښته؛ تاسې ورته څه پلان درلود او څه تغییرات مو په کې راوستل؟

دکتور غني: عبدالرحمن خان ۷ کاله په باغ بابر کې و، لومړی مېلمستیا یې د انګرېزانو هئیت ته وه چې د افغانستان شمالي سرحد یې هغه وخت زاري امپراتورۍ سره وټاکه چې تراوسه زموږ بین‌المللي سرحد دی آسیایي جمهوریتو سره. د ارګ وضعیت سم نه و، یو قسمت کارونه وشول او د قدر وړ کارونه وشول، اما پس له دې نه چې زه راغلم، یو منسجم پلان د ټول ارګ، د تاریخي ارګ د بیا ودانولو لپاره وشو. نو په دې کې موږ وکړی شول چې حرم سرای هم تکمیل کړو، شب جمعې قصر هم تکمیل کړو، د ارګ شینوالی او ټولې نورې برخې د جوماتو. لومړی مو د ګلخانې جومات بیا ودانولو نه پیل وکړ او پس له هغه نه د دلکشا جومات چې اساس یې ایښودل شوی و د طالبانو په وخت کې، مګر تکمیل شوی نه و او ډېر په بد حالت کې و، هغه په ډېر یو منسجم جومات باندې بدل شو. بیا د ګلخانې ماڼۍ اور واخیسته او له سر تر پایه مو آباده کړه. یوازې شی چې پاتې و یو برج و چې باندنیو چارو وزات خوا ته یې مخه وه، هغه تکمیل شوی نه و، اما تاریخي له نظر نه دا نورې ټولې برخې تکمیل شوې وې. ولې؟ زما په یاد دي چې جنرال مشرف کابل ته راغی د ولسمشر کرزي په دوران کې، دې خوا ته او هغه خوا ته یې وکتل او ویې ویل زه نه پوهېدم چې تاسې داسې ماڼۍ درلوده. یو دلیل چې ما ټول تاریخي آثار د افغانستان او د کابل خاصتاً ژوندي کړل د دې لپاره چې زموږ په تاریخ باندې یې خط ویستلی و او دا انځور یې ورکړی و چې افغانان بې تاریخه دي. مهندسي برخه د تاریخ برخه ده، هر څوک چې پل خشتي جومات ته وګوري یا [شاه] دوشمشېرې جومات ته وګوري یا عیدګاه جومات ته وګوري یا ارګ ته وګوري یا دارالامان ماڼۍ ته وګوري، دا درته نه شي ویلی چې تاسې تاریخ نه لرئ او ریښې نه لرئ او وده مو نه ده کړې یا طرحې مو نه درلودلې؛ نو له هغه نظر نه ارګ تکمیل شوی، ټولې ماڼۍ یې او په عین حال کې ارګ بدل په دې شو چې د قالینو په یوه نمایشګاه باندې، په حقیقت کې نندارتون

باندې بدل شو. هره برخه د ارګ کې موږ قالینې راوستلې چې د افغانستان قالینو باندې ټول خلک چې ځي او راځي پوه شي، او همدارنګه څه چوکۍ وې، څه میزونه وو، څه نور تاریخي آثار چې پاتې وو، ټول تکمیل شول، په شمول د امان الله خان مېز چې ما دا ویاړ درلوده چې د هغه شا کې کار وکړم، او همدارنګه د اعلیحضرت [محمد ظاهرشاه] مېز چې خاص مېز یې و ګلخانې په ماڼۍ کې، دا ټول تکمیل شول. ارګ کې ما نه غوښتل چې وارداتي سامان وي، چې څه مرمر د افغانستان دي یا څه لرګي د افغانستان دي، یا نور پیداوار د افغانستان دي یا قالینې دي، دا په عزت باندې کتلی شئ. په څنګ کې یې هغه شی چې ما زیات کړ یوه چای‌خانه وه. ټول ارګ کې د چای یا کافي ځای نه و، نو یو ځای مو خلاص کړ او دومره عایدات دې وکړل چې ځان یې چلولی شو او نورو ځایونو کې هم خلاص شوه، ځکه خلکو ته ضرور وه چې کېني. بهترینې برخې د ورځې زما دا وې چې کوچنیان او محصلین به راتلل. د ارشیف برخه مو تکمیله شوه، یو لوی تعمیر دی چې هغه کې ډېر منظم امکانات برابر شوي دي چې [هغه] تاریخي ارشیف چې په ارګ کې موجود وو، اسناد وو، لس‌ها زره اسناد دي، ټول ډیجیټل کېږي او په ډېرو منظمو الماریو کې ساتل کېږي چې هیله ده [خوندي شي]. او همدا رقم د اعلیحضرت [محمد ظاهرشاه] کتابونه یو په یو ما خپله پاک کړل او بیا پوښ شول او په یوه منظمه کوټه کې بېرته الماریو کې ایښودل شوي دي، ځکه دا ټول زموږ د تاریخ برخه ده او یوه ورځ به ټول افغانان بېرته ورسره مینه پیدا کړي او هم به یې مثبتو جهاتو باندې پوه شي او هم منفي اشتباهاتو او دې باندې.

جنبش: من فکر میکنم برای شنونده‌ها جالب خواهد بود یکی از خاطراتی که از صحبت‌های شخصیِ که با شما داشتم، در مورد بازسازی حرمسرا بود، که گفتید سقفش گچ‌کاری شده بود در حالیکه در زیر گچ‌ها نقاشی های بی‌نظیر وجود داشت.

دکتور غنی: چهره اصلی حرمسرای چی بود؟ خوشبختانه یک افسر انگریز بود به نام ایید که در مجلس مهمانی ۱۸۸۷م امیر عبدالرحمن خان حضور داشت و در آن وقت هنوز خانم‌ها به ارگ تشریف نه آورنده بوند. تنها شخص عبدالرحمن خان بود، در «کوتی باغچه» از اینها استقبال کرد و اینها را اجازه داد [که ارگ را ببینند]. ایید هر اتاق را تشریح کرد اتاق‌ها را. و وقتیکه من دوباره سر اتاق‌ها نظر انداختم فهمیدم که این اتاق‌ها را تغییر داده اند. و نکته دیگر این بود که در بمبارییکه در کودتا مقابل داود خان صورت گرفت حرمسرای بمبارد شده بود و به شکل بسیار موقتی ترمیم شده بود. وقتیکه پس این اتاق‌ها را دیدیم، دو چیز بود: یکی، ۳۰ تا ۴۰ لایه رنگ در دیوارها صورت گرفته بود و تمام نقاشی‌های عمده

بیکه –معلومدار از انسان نبود گل بود و گلدان‌ها و اینها که به شکل خاص آسیای مرکزی تحت نظر عبدالرحمن خان صورت گرفته بود، اینها دوباره پیدا شد. و یک تیم خاص از دخترها و پسرهای افغان در این تربیه شدند و این را همه را احیاء کردند. دومش سقف‌ها بود. بعضی سقف‌ها، مخصوصاً سقف‌ها بیکه آهنی بود یا مسی بود، زیر رنگ گم شده بودند و تمام نقاشی‌های بسیار عالی ایکه در تحتش لایه رنگ وجود داشت قابل دیدن نبود، همه اینها دوباره احیاء شد. و همچنین باغچه‌های مختلف که وجود داشت همه احیاء شد، دوباره زیر آبیاری گرفته شد و تمام ساحه دلکشا دوباره سبز شد، چمن‌های مختلف احیاء شد. تمام این آثار، آثاریست که ضرورت به حفظ و مراقبت دارد، و حفظ و مراقبت اگر دایمی نباشد و مورد توجه نباشد، عملی نمیشود. روزهای جمعه یک ساعت یا دو ساعت پیاده می گشتم و در این نقاط مختلف می گشتم تا بتوانیم حفظ و مراقبت را به صورت اساسی بگیریم، به یک نتیجه رسیدیم.

جنبش: یوه خپرونه کې یادونه وشوه چې ارګ دغومره کوچنی نه و لکه دا اوس چې دی...

دکتور غنی: نه

جنبش: د بهرنیو چارو وزارت یې هم برخه وه او ځینې نور تعمیرونه وو، څومره مهم دي چې دغه تعمیرونه بېرته ارګ کې شامل شي؟

دکتور غنی: وزارت دفاع یې هم برخه وه، باندنیو چارو وزارت یې هم برخه وه، دا سفارتونه چې د فرانسې سفارت دی، د اماراتو سفارت دی، د چین سفارت دی او هغه خوا ته د ترکیې سفارت، د ایران سفارت، دا ټوله برخه د ارګ وه او هغه صدارت چې د صدارت په ځای کې دی چې سردار نصرالله خان جوړ کړ، یوه برخه یې او هغه بله برخه یې محمد هاشم خان په کې خپل دفتر ساته. وزارت دفاع بېرته په دې کې داخل کول یا د باندنیو چارو وزارت [ګران برېښي]. د باندنیو چارو وزارت ډېرتر امکان لري ځکه چې کېدای شي چې انتقال وکړي ځکه چې هلته هم د ستوري ماڼۍ ده او ستوري ماڼۍ د امیر امان الله خان دفتر و. وختي چې ډاکتر سپنتا د بهرنیو چارو وزیر و د هغه تر نظر لاندې د ستوري ماڼۍ آباده شوله بیا هم د آغا خان بنسټ له لارې نه او د هندوستان دولت په مرستې باندې. هغه بله برخه چې د شاه محمود خان کور او اوس شخصي بلل شوې او نور ... هغه به ګرانه وي. اما بلې خوا ته امکان شته او دا هغه د آریانا هوټل دی، ځکه آریانا هوټل نه ما غوښتل چې یو د کنفرانس مرکز جوړ

کړم، ځکه چې ارګ ته دوامدار ولس ځي او راځي او سلام‌خانه کافي نه ده. له بلې خوا نه، امریکاییان چې ووتل دا لویه ساحه چې مخامخ د ارګ ده، هغه یې ورانه کړله، هغه تعمیرونه هلته موجود وو، شخصي یې اخیستي وو مګر هغه یې ورانه کړله، ځکه دا یې ځان ته یو خطر [باله]. دغه یو فرصت دی چې دغه ساحه او ورسره اماني لیسه بېرته د ارګ په چوکاټ کې راشي، ځکه دا زمینه د دې برابروي چې یو عظیم، هم سیاسي مرکز وي او هم د فرهنګي برخو لپاره او هم د لویو مجالسو او مراسمو لپاره خاصتاً د افغانستان د ۳۰۰مې کلیزې لپاره یو تیاری ولرو.

جنبش: د داود خان تر وخته زما یادیږي چې د ارګ مخ ته آزاد خلک ګرځېدلی شول، موږ محصلین وو ګرځېدلو به او دغه واټ چې همداسې غځېدلی و تر هوایي ډګره پورې دا د کابلیانو، د اوچتو چنارو سره د کابلیانو د ویاړ او تفریح ځای و. څومره امکان لري چې دغسې کوریډورونه بیا جوړ شي چې د ارګ له مخې نه تېر شي، ارګ له نورو سیمو سره وتړل شي، نورې سیمې په خپلو منځو کې وتړل شي؟

دکتور غنی: لومړی خبره دا ده چې د دې کوریډور طرحه مطلق تیاره ده، په تفصیل برابره شوې ده او نوم یې هم «د کابل دروازه» ده، چې له هوایي اډې نه بېرته د ارګ له مخې نه څنګه تېرېږي چې نادر پشتون واټ سره بېرته وتړل شي، او دا برخې سره د بي بي مهرو د تپې بیا آبادول او لوی سرک هوایي اډې ته، دا په یو لوی اقتصادي او فرهنګي کوریډور باندې [بدلول]. دلته نظر دا دی چې پوهنتونونه، خاصتاً روغتیایي پوهنتونونه او موسسې دلته وي، ځکه دلته یو تعداد روغتونونه موجود دي لکه د وزیر اکبر خان او دا نور روغتونونه دلته او په څنګ کې یې دغه فرصت یو عظیم فرصت دی د اقتصادي ودې. د دې کوریډرو طرحه آماده ده، ټول په کاغذ مخ کې راغلي دي، نوم یې هم ډېر مسمی دی ځکه چې «د کابل دروازه» یې نوم دی، په دې معنی وختې چې هوایي اډې نه راځئ، کابل خپله غېږه ټولو وطنوالو ته چې بېرته راځي او همدغه رنګ سیلانیانو ته او نورو باندنیو ته خلاصه کړي. مخامخ هم باید لوی د تیږو دیوالونه او کانکریت دیوالونه او دا لرې شي، تر څو چې بل کوریډور چې له ارګ نه تر تنګي غارو پورې ځي او موازي یې د احمد شاه بابا کوریډور دی چې د سیند جنوب خوا ته پراته [دي]، دا ټولې طرحې برابرې شوې دي. او هیله من یم چې د دې طرحو په اساس باندې اقدامات وشي او ښه والی یې دا دی چې، څه چې غیرپلاني برخې په شاوخوا کې پرتې دي، دې ټولو لپاره لارې برابرې شوې دي چې دا څنګه د خلکو په ګډون سره دا په پلاني برخو کې بدل شي. د مثال په توګه، هوتخیل او تره خیل چې د پل محمود خان نه تنګي غارو خوا ته پراته دي، دا ساحه د طلاوو ساحه ده.

جنبش: و حالی که صحبت از میدان هوایی شد، طرح برای اعمار یک میدانی که چهره واقعی افغانستان را به جهان تمثیل کند وجود داشت؟ داود خان فکر میکنم میخواست که میدان هوایی را انتقال بدهد به سمت لوگر، طرح شما چی بود؟ یا طرحی وجود داشت که یک میدان خوب برای کابل ایجاد شود؟

دکتور غنی: طرح داود خان دشت سرخاب بود. به شما معلوم است که قریه آبایی ماست. ما از چند سال در آن حضور داریم، یک دشت بسیار فراخ است و امکانات از نگاه تخنیکی که مدنظر گرفته شده بود بهترین شرایط را داشت. نقطه ییکه تغییر کرده و از نگاه تخنیکی باید سرش مرور مجدد شود، یکی اینست که: آیا با سرمایه‌گذاری که سر میدان هوایی فعلی کابل شده و شرایط تخنیکی را که در دوران داود خان ایجاب میکرد که میدان هوایی به لوگر تغییر کند هنوز هم هست یا نی؟ جواب این را باید از نگاه تخنیکی ببینیم. دوم، میدان هوایی بگرام بررسی اش اینست که حداقل یک میلیارد دالر سرش مصرف شده، معلومدار تاسیساتش تنها برای نشست و برخاست نظامی بود، اما این یک ساحه وسیع است. در آینده اگر انکشاف دوامدار کابل را ببینیم، من فکر میکنم که ضرورت باز هم برای یک میدان هوایی در لوگر خواهد بود، اما این باید دوباره دیده شود. نقطه ییکه قابل ذکر است اینست که با اعمار میدان هوایی خوست ما نشان دادیم که اگر ما خود ما مدیریت اعمار این میدان های هوایی را به دست بگیریم، بر یک بر چهل، یک بر ده حداقل مصارف بین‌المللی تمام میشود. تمام میدان هوایی خوست به ۱۰ میلیون دالر تمام شد. [درحالیکه] تنها قسمت دوم میدان هوایی کابل، بدون رن وی و اینها ۳۰ میلیون دالر تنها سر یک تعمیر مصرف شد و میدان هوایی مزار شریف هم در حدود ۶۰ میلیون یورو تمام شد و اینها. ضرورت اینست که تمام اینها دیده شود، یک سلسله میدان‌های هوایی را از نگاه انتقالات – خاصتاً اگر افغانستان، طرحی را که من داشتم و امید است که تعقیب شود، که به یکی از صادر کننده‌های عمده میوه و سبزیجات و گل بدل شود مخصوصاً گلاب و مرسل؛ در آن صورت یک شبکه میدان‌های هوایی را ضرورت داریم، این که کدام مرکزی شود ضرورت به یک بحث تخنیکی جدی دارد.

جنبش: د کابل له ښار نه بهر ډېر زیات کارونه شوي دي. د جبل السراج تاریخي ودانۍ ورغېده، استالف کې رغېدنې وشوې، خو تر ټولو زیاتې چې زما حیرانتیا یې را وپاروله او په عین حال کې تحسین، هغه د پغمان هغه ودانۍ وې چې تقریباً له منځه تللې وې. زه چې دا وروستی ځل کابل ته تللی وم، هلته

خلکو راته وویل، مسلکي کسانو، چې دلته تعمیر نه و پاتې، بیخي د بنسټ نه هر څه را جوړ شول، په دې باره کې راته ووایاست.

دکتو غني: زه ځینو همکارانو سره مرکزي آسیایي هیواد کې وم، منطقوي کنفرانس و، نو دوی راته وویل: کاشکې موږ هم دغسې یو ځای درلودای مېلمنو ته. ما ورته مخ واړوه ما ویلې: سل کاله پخوا مو داسې ځای درلوده او په جوړېدو کې دی. ما ولیدل چې دا ملګري بې اعتباره دي، بیا یو څو اوونۍ بعد مې پغمان ته یووړل او پغمان یې چې ولیده –دوی نه و لیدلی، هغه برخه چې امیر حبیب الله خان او خاصتاً د امیر امان الله خان ودانۍ وې. ولې مو دا بېرته جوړ کړل؟ ځکه بیا هم همدا کیسه ده چې موږ یو عظیم د اوړي پایتخت درلود، د افغانستان لویې جرګې امان الله خان تر ډېره حده پورې او جشنونه تر ډېره حده پورې پغمان کې نیول. او مخکې له هغه نه به هر وار چې کابل کې کولرا راتله چارواکي به پغمان ته تلل. هلته مو چې شاوخوا ولیدل څو شیان وو: یو، هېڅ شی پاتې نه وو، نو څه مو وکړل؟ یوې خوا نه مو عکسونه پیدا کړل، له ښې مرغې نه د امان الله خان په وخت کې یو قسمت البومونه نشر شوي وو چې عکسونه په کې وو، نو دا ما ټول پیدا کړل او همکارانو سره مو شریک کړل. بل دا و چې کیندنې مو وکړلې، لکه لرغون پېژندنې باندې او اساس د تعمیر مو پیدا کړل او د عکسو په اساس باندې مو دا بېرته ورغول. له ښې مرغې نه دا کار موازي د دارلامان له ماڼۍ سره وشو، ځکه ډېره برخه د مسطحې او د لرګي او دا چې راغلل دا د کونړ سوچه لرګي دي، او له کونړ نه دواړو ماڼیو کې، هم دارالامان کې او هم د پغمان په ماڼیو کې د کونړ نجاران راغلل، یوازې لرګي یې را نغلل او په همدې کې یوازې ۵ میلیونه ډالره موږ سپماوی وکړ، که بازار نه مو اخیستي وای. نو بیا په هماغه ترتیب باندې آباد شول. دویمه خبره دا وه چې چینې مو پیدا کړلې، دا برخه عجیبې چینې لري، اما توجه نه وه شوې، دا مو په ټپو باندې بدل کړل، هغه شي ته چې تِراس وایي. دا تقریباً ۱۵۰ جریبه ځمکه وه، اوس رسېدلې ده ۵۰۰ جریبه ځمکې ته، او بیا مو دې کې ګیلاس ونې وکرلې او د غره تر سره پورې دا ټول برابر شو. نو اوس تاسې ګورئ یوې برخې کې یوازې ۲۰ زره نفره جنبش صاحب ځایېدای شي. د کابل خلکو لپاره زما ټوله طرحه دا وه چې هېڅ شی چې موږ آبادوو «قروغ» [قدغن، ممنوع] دې نه وي، ولس لپاره دې خلاص وي. په همدې اساس باندې ما غوښتل چې ټولو ولسوالیو ته، اول د کابل په شاوخوا کې او بیا ټول افغانستان کې د دې امکانات برابر کړو چې پارکونه ولري او ماڼۍ ولري چې هم خپله افغان سیلانیانو ته او هم باندنیو سیلانیانو ته د لیدلو- کتلو شرایط برابر کړي.

جنبش: یعنې د کابل جنوب خوا ته ولسوالۍ حداقل امکان يې و چې دغسې مهم ځايونه ولري.

دکتور غنی: جنوب او شرق دواړه، ځکه د مثال په توګه چهارآسياب يو عمده ځای و، موسهي ته توجه نه ده شوي، چکري...، لومړی کابل له چکري نه شروع شوی و، «ملاعمر» [سیمه] يو بېحده ښکلا لري، خاکجبار داسې اوبه لري چې وربانديې به هک حیران پاتې شئ. خاصتاً خاکجبار بانديې د کابل خلکو او کابل ښاروالۍ يو عظيم ظلم کړی. ټول ګنده مواد د کابل انتقالېږي نزدې خاکجبار ته او بوی يې جنبش صاحب دومره بد دی چې د هليکوپټر نه يې [محسوسولی] شئ. يا جګدلک ته وګورئ. دې خوا ته نغلو کې زښت ډېر د اوبو د سپورټو او د سيلانيانو مرکز [امکانات لري]. نغلو کولای شي چې قرغې سره ډېره سمه سيالي وکړي، همدغه رقم سروبي. دا ټوله ساحه له ماهيپر نه نيولې هغه خوا ته، شرق خوا ته؛ جنوب خوا ته شکار قلعه د محمدآغې په ولسوالۍ کې يو عمده ځای د ښکار و د غزنويانو [له زمانې] نه، تر ګرديزه پورې، څرخ خروارو ته، نورو برخو ته. او غرب خوا ته ميدان وردګ زښت ډېر تاريخي آثار لري او خاصتاً دلته د شاه توت بند به يوه ورځ ان شاءالله تعالی آباد شي او د شاه توت د بند آبادولو سره هماغومره چې د جلال‌اباد هوا د ننګرهار کانال سره بدله شوه، د شاه‌توت بند به دا رقم تاثير وکړي او يوه ډېره لويه ساحه د باغاتو به جوړه شي. له بلې خوا نه موږ غوښته چې د پنجشير د سيند اوبه راوړو کابل ته چې هم د څښاک لپاره او هم د نوي کابل آبادولو لپاره، ځکه چې ده سبز کافي اوبه نه وې. او اساسي ليد دا دی چې کابل بايد شرق خوا ته وده وکړي او جنوب خوا ته موږ بايد ساحه وساتو. او په عين حال کې يو کورېډور و چې د لوګر کورېډور مو ورباندې نوم ايښی و او کار وربانديې په شدت روان و چې دا په يو لوی سرک بانديې بدل شي.

جنبش: در حالیکه خوشبختی این بود که عکسهایی از قصرهای امان الله خان و حبیب الله خان باقی مانده بود و قصرهای پغمان را از روی آن ساختید. اعمار [مجدد] قصر دارالامان فکر میکنم کار مشکل تری بوده، به کجا مراجعه کردید؟

دکتور غنی: در قصر دارالامان نکات اصلی اینست که هم طرح مهندس فرانسوی به نام Godard که اولین طراحش بود، این را تعقیب کردیم و باز گروپ المانی‌ها که اول آمدند و اولین کمک تخنیکی را که به صورت اساسی امان الله خان استخدام کرد از المان بود و اینها در حدود ۶۰۰ نفر محصلین صنوف اول را درسهای تخنیکی دادند، که همین افرادیکه از طرف اینها تربیه شده بودند، پسان تمام کارته‌های

عمده کابل را هم خصوصي هم دولتی را ساختند. این نقشه ها را از یک طرف به دست آوردیم، نکته دیگرش این بود که خود قصر موجود بود، مگر متاسفانه قصر نمونه قساوت بود، قساوتی که بعد از سقوط حکومت داکتر نجیب به وجود آمد. از این کرده مثال زنده قساوت افغان در مقابل افغان وجود ندارد. هر بخش آن یک توهین بود به هویت ملی و یک جرحه و یک خنجر بود به قلب افغان. قصری که قصر دارالامان به اساس آن ساخته شده بود و تحقیقاتی بود که دخترم مریم غنی انجام داده بود که یک فلم هم به قصر اولی المان که در کولن است و برادرهای مشهور قصه نویس المانی کتابدارهای آن بودند و بعد به کتابخانه بدل شده بود، یک فلم سر هر دو قصر ساخته شده بود، بنابرین ما مطالب واضح در اختیار داشتیم. اولین کار این بود که قصر باید تخلیه میشد از داغمه‌جات و خاصتاً از آهن بابی که سقفش را تشکیل میداد. و در این بخش یک گروپ انجنیرهای افغان واقعاً کار بزرگ را انجام دادند. شرکتهای خارجی ۱۰ تا ۲۰ میلیون دالر تنها برای تخلیه اش میخواستند، کُلش به یک میلیون دالر انجام شد. اما در قسمت دوم این همکارها گفتند که حداقل ۵ تا ۷ سال دیگر به کار است که قصر دوباره احیاء شود، اما هدف من این بود که صدمین سالگره استقلال افغانستان باید در قصر دارالامان گرفته شود. و از آن جهت، واحد عملیاتی و شرکت ملی که خاصتاً ایجاد شده بودند و در قسمت اعمار مساجد کار برزگ انجام داده بودند، اینها وظیفه را به عهده گرفتند و خوشبختانه با کمال افتخار در ظرف ۱۸ ماه این قصر تکمیل شد، که یک افتخار بزرگ بود که ما توانستیم با حضور شهزاده خانم هندی دختر امیر امان الله خان صدمین سال استقلال افغانستان را در آن تجلیل کنیم.

جنبش: د دارالامان نه لږ هغې خوا لویدیځ خوا ته د تاج بیگ مشهوره مانۍ ده، فکر کوم دوی همزمان سره جوړې شوې دي، خو دې خوا يې چې ختيځ خوا ته راځي نوی کمپلکس جوړ شوی دی د پارلمان، جوړښت يې د دارالامان او تاج بیگ د ودانیو له جوړښت سره سر نه خوري، نه شوای کېدای چې یا دغلته پارلمان جوړ نه شي یا يې تعمیر دغسې شي چې د دغې معمارۍ له سبک سره موافقت ولري؟

دوکتور غني: هغه مخکې له ما نه شوي وو، ما په کې برخه نه درلوده او ډېر گران تمام شو، دا د هندوستان په مرستې وشو، لومړی طرحه لس یا شل میلیونه ډالره وه، تر سل میلیونو نه اوچته شوله، تاسې سره همغږی یم، اما دا مخکې له ما نه شوي وو. تاسې ته به مهمه وي [وپوهېږئ] چې ما غوښتل چې دارالامان کورېډور له دهمزنگ نه تر دارالامانه پورې جوړ کړم، نه یوازې د دې طرحه جوړه شوه، بلکې

تفصيلي انجنيري کارونه انجام شول چې دولتي ادارې یوه ډېره برخه موږ دارالامان ته انتقال کړو. ځکه که اوسنیو وزارتو ته وګورئ ګډوډ دي، یو مشترک ځای نشته، یو دفتر نه بل دفتر ته چې ځئ [ډېر وخت لګېږي]. او له بلې خوا نه دا مانۍ لکه وزارت مالیې یا ستره محکمه یا دا... ډېر قیمتي ځایونو د کابل کې دي چې بدیل ورته پیدا کېدای شي، دغه شی ټول برابر شوی، ښه خبره دا ده چې یوه ډېره برخه دارالامان دولتي ځمکه ده. او بیا دا کورنیوږ په دې بدلېده چې دلته هېڅ مانۍ باید د دارالامان له قصر نه اوچته نه وي، اما ټوله ساحه د چهاردهي به چې واقعاً د کابل یو باغ دی، دا بېرته ژوندی کېده. ګذرګاه او دا ټوله ساحه بابر باغ سره، چهلستون باغ سره او نورو باغو سره چې د کابل باغ مې درته وویل، دا به ټول سره وصل کېدل او د دې په هره برخه کې به مختلف چوکونه به وو، عصري چوکونه او مختلفې طریقې د تعمیرونو، څو منزله تعمیرونو نه تر رهایشي تعمیرونو او دا... او زمینه به د دې برابر کېدله چې همدې برخه کې یو بل پلان و چې لس زرو نفرو ته، په لومړۍ برخه کې لس زره کورنیو ته، دولتي چارواکو ته کورونه، اپارتمانونه او دا برابر شي تر څو چې له کرایې نه خلاص شي او موږ وکړی شوو پس له هغه نه ترتیبات ونیسو. نو دا ټوله طرحه آماده وه چې د امان الله خان خوب موږ تکمیل کړو. هېر مو نه شي چې د هوایي اډې په سرک کې ما غوښتل چې د امیر شیرعلي خان خوب تکمیل کړم، ځکه هلته هم امیر شیر علي خان یوه طرحه درلوده چې لومړی قدم یې دا و چې له جنوب د کابل نه ووځو شمال ته او دا ساحه آباده کړي. او کورنیوږو برخه کې هم دا باید هېره نه کړئ چې خدای بښلي غلام محمد خان فرهاد، لومړي منتخب ښاروال د کابل، د کورنیوږو طرحه درلوده او جاده میوند د هغه لویه طرحه وه او ویې کړی شول چې د کابل فضا خلاصه کړي، نو دا کورنیوږونه هم د هغه برخه د میراث ده. زما هدایت دا و، دا نورې مانۍ چې آبادېدلې دا باید ټولې د دارالامان قصر سره او د تاج بیګ سره په یوه ډیالوګ کې وي.

جنبش: بلی بدون شک باید در معماری هایی که در آینده صورت می گیرد حداقل هماهنگی درونی شهری و بناهای شهری در نظر گرفته شود. یک سوال دیگر هم پیش از آن که به پایان برنامه برویم اینست که اشاره هایی صورت گرفت که شهر کابل آبگیر هایی داشت و ذخیره های آب داشت و به زیبایی شهر می افزود، از جمله مثل قول حشمت خان، چمن ببرک و مناطق اطراف میدان هوایی کنونی... آیا به این هم توجه میشد که این مناطق دوباره احیاء شوند و چهره کابل برگردد به سابق؟

دکتور غنی: بلی، خاصتاً سر قول حشمت خان یک طرح واضح تحریری با تمام ابعادش وجود دارد که این به یک پارک عمده کابل بدل میشد. فراموش نکنید که قول حشمت خان در پهلوی صفات دیگری که دارد، مرکز پرنده هاست و این ساحه قروغ [ممنوع] میبود، بدبختانه به صورت بسیار بی رحمانه ساحه قول تصرف شده، غصب شده، از این جهت...

جنبش: که به شنونده‌ها بگویم که در قسمت جنوبی کوه شیردروازه ...

دکتور غنی: پشت بالاحصار واقع است...

جنبش: بلی

دکتور غنی: و از طرف دیگر ساحه کوه برم تی امکانات نهایت وسیع دارد، شیوکی، موسهی... این ساحاتی استند که اگر به صورت اساسی مثلی که مردم کابل با پغمان و استالف و شکردره و اینها آشنا استند، با این ساحات آشنا شوند، واقعاً ابعاد مختلف رفت و آمد را فراهم میکند و به همه مفید واقع [می شود]. طرح دیگر ما هم این بود که از پغمان تا جبل السراج یک سرک در طول این دره‌ها ایجاد شود، چون یکی از مهمترین ساحات تفریحی بوده میتواند و امکان این را برابر میکند که یک سرمایه‌گذاری بزرگ خصوصی در این بخش از نگاه ایجاد هوتل‌ها و گردشگری فراهم شود. کابل را ما باید به حیث کُل ببینیم، اجزا را برای تان تشریح کردم و در پهلوی این دو کوریدور، حداقل چهارده کوریدور دیگر زیر کار بود.

جنبش: دغه راز د نوي کابل د جوړولو طرحه هم موجوده وه، یوه اداره هم ورته جوړه شوې وه، کارونه یې یو ځای ته ورسېدل. کوم ځای ته کار رسېدلی و؟ او اصلاً طرحه څه وه چې څه وشي؟

دکتور غنی: طرحه مخکې وه، ماته په میراث پاتې شوه، تکمیله نه وه او ستونزه یې په څو برخو کې وه: لومړی، د اوبو ستونزې ته توجه نه وه شوې، طرحه په کاغذ کې ښه طرحه وه، په عملي ابعادو یې ډېره واضح توجه نه وه شوې. دویم، طرحه اعلان شوه، ځینې ځمکې چې دولتي وې او باید طرحې لاندې وای، دعواګانو لاندې راغلې، قیمتونه نور ابعاد د مشکلاتو وو. اصلي برخې ته راشوو: جنبش صاحب تاسې ته ډېره روښانه ده چې موږ تداوم د نسلونو له لاسه ورکړ. له [کومې] ورځې نه چې د داود خان کودتا وشوه، د نسلونو تداوم له منځه لاړ، ځکه د داود خان کودتا سره یوه ډېره برخه تخنیکي افراد په

ډېرې ځوانې کې تقاعد ته لاړل یا کورونو کې کېنول شول، نورو ته زمینه برابره نه شوله. اما هغه تخنیکي ظرفیت چې منځ ته راغلی و، مایوس شو ځکه کودتاچیان عمده ځایونو کې مقرر شول. او پس له دې نه چې د داود خان په مقابل کې کودتا وشوله، نو خو معلومداره ده، تاسې ته معلومه ده او حاجت بیان ته نشته چې تخنیکي ظرفیت یو واري له منځه لاړ، خاصتاً د حفیظ الله امین د وژنو له لاسه او بیا مهاجرتونو له لاسه. نو له دې نظر نه څو برخې بنیادي مشکلات موږ درلودل او لرو یې. یو دا ده چې اول باید یوه مفکوره ولرئ او مفکوره له دوو برخو نه راځي، یو له تاریخ نه او شرایطو نه، دویم دا ده چې بین‌المللي تجربې څه دي. دویمه برخه کې دا باید بدل شي په یوه لید باندې او لید باید په مسلکي معیارونو باندې وي، د مثال په توګه، کابل باید کوم خوا ته وده وکړي؟ دا یوازې سیاسي برخه کې یا بې له کافي څېړنو نه فیصله نه شئ کولای، نو ما یو شرکت استخدام کړ، دا ظرفیت له بده مرغه د ملګرو ملتونو په موسسې کې قطعاً ظرفیت نشته، دوی په سپکه ګوري دې وطنو ته او فکر کوي چې تر ابده پورې باید بېوزله وي او دا ورته سمه ده که څو بدرفته دې ورته جوړ کړل، په هماغه خبره خلاصه ده. ما دا موسسه چې یوه ډېره باعزته موسسه وه په بوستون کې په نامه د ساساکي استخدام کړه او پیسې مو نړیوال بانک نه را پیدا کړلې، او نړیوال بانک کې هم دا ظرفیت نه و او آسیایي بانک کې هم. دریېمه برخه دا ده چې دا تفصیلي مهندسي طرحې غواړي، یعنې Architecture، بیا دا بدلېږي په انجنیري طرحو باندې او بیا راځئ له ټولو نه عمده، عمل ته. څنګه د پروژو مدیریت کوئ؟ موږ دغه برخه کې بې حده کمزوري وو، ځکه ټولې بین‌المللي ټولنې زور په دې اچاوه چې باید خصوصي سکتور ته یې ورکړئ، او موږ خصوصي سکتور نه درلوده، په مرور د زمان وده یې وکړله، اما ډېرتر په روابطو باندې و، بېرته دا په وسیلو او واسطو بدل شو، ځکه تر [هغې] ورځې پورې چې ما عملیاتي واحد او ملي شرکت جوړ کړ، موږ د چټکوالي زور نه درلوده چې چټک اقدام وکړو او پیسې مصرف کړو، نو ډېرې برخې د پیسو به پاتې وې، راکدې به پاتې وې په کلونو باندې. او قراردادیانو د دې لپاره قرارداد نه کاوه چې کار تکمیل کړي، د دې لپاره [یې کاوه] چې قرارداد کې بیا تغییرات راولي. او له بنې مرغې نه په دې کلونو کې تجارب په مختلفو برخو کې پیدا شول چې دا مو سره یو کړي وو او آماده دې ته وو چې ټول کابل ته په یوه منظمه توګه وګورو. که سیند و، که غرونه وو، که اوبه وې، که برق و، که بدرفت و او خاصتاً محوري خبره دا وه چې خلکو ته څنګه هوسا ژوند برابروئ او څنګه شرعي مصئون جایداد ورکوئ. ۷۰ فیصد د کابل غیرپلاني دی، د مثال په توګه دشت برچې ساحې کې موږ ټول اقدامات برابر

کړل چې یو کوربه‌ور په چټکه توگه برابر شي، ځینو خلک شِق وکړ او لاره یې بنده واچوله او دا کار ځینو نورو وطنوالو په برخه د لویو سرکونو او شاهراه گانو کې هم وکړل. هغه برخه کې بیا د دولت قوت باید واقعاً موجود وي او ولسي ملاتړ ورسره وي چې په قوت باندې عمل وکړي.

جنبش: فقط لنډ که راته ووایاست چې هدف څه وو چې نوی کابل هماغسې چې یې نوم و د اوسني کابل ځای‌ناستي شي، پایتخت هغې خوا انتقال شي که بل شی و؟

دکتور غنی: نه، نوی کابل تنها یوه برخه د کابل ده، دې باندې باید تېر نه وځو. هغه یوه وړه پروژه وه، زما لوی هدف ټول کابل و، له پغمان نه تر سروبي پورې، غرب نه تر شرقه پورې او اوس باید میدان وردگ هم ورسره واضح وگورئ او دې خوا ته لوگره پورې او هغه خوا ته پروانه پورې. دا د نوي کابل پروژه زما بنیادي پروژه نه وه، هغه مې میراث اخیستې وه، زما تمرکز په ټول کابل و، مرکز د کابل، دغه کوربه‌ورونه، شپاړس کوربه‌ورونه په ټول کابل کې چې ټول ابعاد یې نظر کې نیول شوي وو، او ټول د کابل ضروریات، زېربناگانې او په عین حال کې هم ځوانانو ته، هم مېرمنو ته او هم بې‌وزلو ته، امکانات د دې برابر کول چې ۳ اکثریته زموږ د هیواد دې چې ټول یو بل سره په یوه پلازمېنه کې ژوند وکړو چې د ټولو مشترک کور او د ټولو افغانانو د ویاړ پلازمېنه اوسي.

جنبش: و به این ترتیب میرسیم به پایان برنامه، میخواهم یک سوال کُلی بپرسم که تقریباً ربع یک قرن باقی مانده به تاریخی که افغانستان معاصر ۳۰۰مین سالگرد تاسیس خود را جشن خواهد گرفت. چه باید شود که در این مدت باقی مانده تا سال ۲۰۴۷ یک پایتختی را داشته باشیم که هم نماد این سالگرد بزرگ باشد و هم سازگای داشته باشد با خواسته‌های قرن ۲۱؟

دکتور غنی: تهداب فکری، عملی و نقشه‌های واضح تطبیقی برای آن فراهم شده و من امیدوار استم که نسل های فعلی و آینده افغانستان بتوانند با این استناد با در نظر داشت شرایطی که کشور عزیز ما و منطقه و جهان در تغییر استند، بتوانند دیدگاهی را که من عرضه کرده بودم، جامه عمل بپوشانند و پایتختی را ایجاد کنند، شهری و ولایتی را که شایان میراث تاریخی اش و با پایتخت های ممالکی که پایتخت های قابل زندگی و عزت و حیثیت دارند، همسری کرده بتواند.

جنبش: ډېره مننه استاده، د افغانستان د شپږو ښارونو چې پایتخت یا پلازمېنه کابل هم په هغه کې راته، د هغې په اړه موږ په پرله پسې خپرونو کې ستاسې نظریې او طرحې واورېدلې، هیله دا ده چې تر ۲۰۴۷

کاله پورې دغه طرحې، هغه برخې يې چې پاتې دي عملي شي او کابل او نور ښارونه د افغانستان له يوويشتمې پېړۍ سره سمون وکړي. کور مو ودان ولسمشر محمد اشرف غني، په نورو خپرونو کې به د افغانستان د ملي او تاريخي ارزښتونو يوه بله برخه درسره وڅېړو. تر بيا د خدای په امان.

دکتور غنی: انشاءالله تعالی، د خدای جل شانه دربار لوی دی، هيله‌من يم چې په ګډه موږ افغانان په دې وتوانېږو چې خپلو ښارونو ته، خپل ژوند ته، خپلو کليو ته او خپل کوچياني ژوند ته، ټولو ابعادو ته يې هغسې بدلون راوړو چې ټول په ګډه او په عزت ژوند وکړو.

تل دې وي افغانستان، يشه سين افغانستان، زنده باد افغانستان.

#